مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۶/۱۱/۱۳

غزل

هسي به بنکاري اوښزان بلا وخـتونه تېر شول
زمونږ پر سر ددې اسمان بلا وخـتونه تېر شـول

پيدا کوي به يې هغوئ چې زړه ته لار پيدا کړي
ګڼي د خـدای او د انسان بلا وخــتونه تېر شول

ته خو به اوس نوې توبه کوې جنت به غواړې
شيخه! زما او د ايمان بلا وختـونه تېر شـــول

خاونده نور يې را پوره کـړه ګڼي قتل به شي
زمونږ په زړه کې د ارمان بلا وخـتونه تېر شول

فرق يې باوره !اپه امام او موذن کې راغی
ددې تکبير ددې اذان بلا وخـتونه تېر شـول

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ